د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
نېټه: ۱۳ غویی ۱۴۰۰
خبرپاڼه شمیره: ۱

# د شهیدانو د ورثې او معلولینو د اسنادو او وثیقو د څېړنې بهیر دې چټک شي



د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر پوهنمل حمیدالله فاروقی د کابل ولایت د اسنادو او وثیقو د څېړنې او ارزونې کمیټې له غړو سره په لیدنه کې د یاد بهیر پر چټکتیا ټینګار وکړ.
د اسنادو او وثیقو د څېړنې او ارزونې کمېټې غړو خپل کاري راپور وړاندې کړ او تر راتلوونکو دوو میاشتو یې د کابل ولایت د اسنادو د څېړنې او ارزونې پروسې د بشپړیدو ډاډ ورکړ.
ښاغلي فاروقي د یادې کمېټې له مسولینو مننه وکړه، چې د کابل ولایت اړوند (۳۹۹۴۹) اسناد یې څېړلي او یو شمېر ناقانونه اسناد یې رد کړي دي.
ښاغلي فاروقي وویل: پاتې ۱۶۰۰۰ اسناد دې ژر تر ژره وڅېړل شي، تر څو د شهیدانو د ورثې ته کلنې حقوق ورکړل شي.
ښاغلي فاروقي د هغو اسنادو په اړه چې بشپړ نه دي او قانوني ستونزې لري، د حل په موخه د یوه لارښود د جوړیدو لارښوونه وکړه.

# د پارا المپیک لوبغاړو ته به د سیالیو ترسره کولو په موخه مناسب فرصتونه برابر شي



د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر پوهنمل حمیدالله فاروقي د پارا المپیک کمیټې رئیس او غړو سره وکتل.
د پارا المپیک کمیټې رییس ښاغلي عبدالحسین حصاری د یادې کمیټې د برنامو په اړه معلومات وړاندې کړه وویل: یاده کمیټه دوولسو ولایتونو کې ۲۱۳۰ معلولیت لرونکي ورزشکار غړي لري چې کورنیو او نړیوالو سیالیو کې لوبې ترسره کوي. ښاغلي حصاري په مرکزي جمنازیوم کې د لوبغاړو لپاره د ورزشي وسایلو کمښت، د بودجې محدودیت او د زرغونو ورزشي سیمو نشتون مهمې ننګونې وبللې، چې لوبغاړي یې ستونزو سره مخ کړي دي. ښاغلي حصاري د وزارت او پارا المپیک کمیټې د غړو تر منځ د مشورتي بورډ د جوړېدو غوښتنه وکړه.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سرپرست وزیر پوهنمل حمیدالله فاروقي د پارا المپیک کمېټې معلولیت لرونکو لوبغاړو د لاسته راوړنو ستاینه وکړه او معلولیت لرونکي لوبغاړي یې د لوړو ظرفیتونو خاوندان وګڼل. ښاغلي فاروقي وویل: د بودجې د کمښت په اړه به د مالیې وزارت سره خبری وکړي، د زرغونې سپورتي سیمې او نورو اسانتیاوو رامنځته کولو برخه کې به نړیوالو موسساتو سره همغږي وکړي ترڅو په دوامداره توګه د یادو لوبغاړو ملاتړ وشي.
ښاغلي فاروقي لارښوونه وکړه چې د شهیدانو او معلولینو چارو ولایتي آمریتونه د پارا المپیک کمیټې له لوبغاړو سره بشپړه همکاري وکړي.

## د شهیدانو وارثینو او معلولینو د حقونو د تامین په اړه د هېواد د جلالتمآب جمهور رییس د هدایت تحقق په موخه غونډه وشوه



د شـهیدانو او معلولینـو چـارو وزارت او جمهـوري ریاسـت د چـارو اداري د فرهنگـي او ټولنیـزو چـارو ریاسـت لـه لـوري د شـهیدانو او معلولینـو، کار او ټولنیـزو چـارو، مالیـې او عامـې روغتیـا وزارتونـو، د اداري اصلاحاتـو کمیسـیون، د ملـي امنیـت لـوی ریاسـت او د کابـل ښـاروالۍ اسـتازو پـه گـډون د هېـواد د شـهیدانو او معلولینـو د حقونـو د تامیـن پـه اړه د جلالتـمأب جمهـور رییـس د هدایـت د تطبیـق پـه موخـه غونـډه وشـوه.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر د افغانستان د سولې لارې د پیوستون بنسټ له غړو سره لیدنه وکړه



د شـهیدانو او معلولینو چارو سرپرسـت وزیر پوهنمل حمیداللـه فاروقـي د افغانسـتان د سـولې لارې د پیوسـتون بنسـټ لـه رئیـس او غړو سره لیدنـه وکړه. پـه پیـل کـې د افغانسـتان د سـولې لارې د پیوسـتون بنسـټ رییـس د خپلـو فعالیتونـو او لاسـته راوړنـو پـه تـړاو خـبرې وکـړې وویـل: دغـه بنسـټ د سـولې د ټینگښـت او د هېـواد وضعیـت د ښـه والي پـه موخـه پـه بېلابېلـو برخـو کـې خپلـو هڅـو تـه دوام ورکـوي. همدارنگـه نومـوړي ژمنـه وکـړه، چـې د شـهیدانو او معلولینـو چـارو وزارت سره بـه پـه بېلابېلـو برخـو کـې همـکاري کـوي. د شـهیدانو او معلولینـو چـارو سرپرسـت وزیـر پوهنمـل حمیداللـه فاروقـي، د یـاد بنسـټ د ښـو فعالیتونـو د تـرسراوي لـه املـه هغـوی تـه د مننـې ترڅنـگ وویـل: جنـگ زمـوږ پـه ټولنـه کـې یـوه بـده او منفـي پدیـده ده او پـه هېـواد کـې د ټولـو سـتونزو سرچینـه همـدا نـاوړه جگـړه ده. د سـولې د تامـین او د هېـواد د ابـادۍ لپـاره گـډو هڅـو او زیـات مسـوولیت منلـو تـه اړتیـا ده. نومـوړي هیلـه منـدي وښـوده، چـې پـه زده کـړو سـمبال ځوانـان کولـی شي، چـې روان ناسـم وضعیـت تـه مثبـت بدلـون ورکـړي او د سـولې د ټینگښـت او د هېـواد پـه بیارغونـه کـې رغنـده رول ولوبـوي. پـه پـای کـې د افغانسـتان د سـولې لارې د پیوسـتون بنسـټ غـړو ښـاغلي فاروقـي تـه، د شـهیدانو ورثـې او معلولیـت لرونکـو وگـړو لپـاره د غـوره او اغیزناکـو خدمتونـو د تـرسراوي لـه املـه سـتاینلیک ډالـۍ کـړ.

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

نیټه: ۱۳ غویی ۱۴۰۰

خبرپاڼه شمیره: ۱

## له کوچني اختر وړاندې به د شهیدانو زیاترو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو لپاره حقوق حواله شي



د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مشرتابه هئیت د روژې مبارکې میاشتې په درناوي او د شهیدانو درنې ورثې او معلولیت لرونکو وګړو ستونزو ته په کتو، پرېکړه وکړه چې د بشپړ اسنادو درلودو او د ارزونې او کتنې کمیسیون څخه د سم ګڼلو په صورت کې به د نظامي شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو لپاره د ۱۴۰۰م لمریز کال ټول حقوق او د ملکي شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو ته د روان کال شپږو میاشتو حقوق له کوچني اختر وړاندې په یو ځایي ډول حواله کړي.

نو پر همدې بنسټ د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د خدمتونو وړاندې کوونکې او ملاتړ مرستیالې جمیلې نورستانۍ په مشرۍ د اسنادو د پروسس چارو د چټکتیا په موخه د اشر په ډول د وزارت له کارکوونکو د اسنادو د کتنې او حقونو د حواله کولو لپاره ګډه کمیټه جوړه کړه، څو په روژې مبارکې میاشتې کې د بشپړ اسنادو لرونکو شهیدانو ورثې او معلولینو لپاره حقوق تادیه شي.